استاد شهسوار سنگروال ۲۰۲۰/۱۲/۲۶

# د حفیظ الله امین او ببرک کارمل سیا سي ناندری
# او د شورویانو خونړی برید

که څه هم دافغانستان دخلک دموکراتیک ګوند د مارکسیزم له تیوري نه سرچینه اخستي وه، ولي بیا هم د حفیظ الله امین سیاسي سیالانو دی د ناسونالست او فاشست په نوم یادوه اوان تر دې چي دی یې د یوګوسلاویا د مشر مارشال تیتو سره پرتله کاوه.

«په دي اړه هماغه وخت دا خبرونه هم خپاره شول، چي ببرک کارمل، دی شوروي مشرانو ته د یوه ناسیونالست په بنه معرفي کړ چي په ده د برژنف او نورو چاراوکو شک لا هم زیات شو.

خبره همدا وه، شورویانو له حفیظ الله امین سره سیاسي ستونزه لرله، که نه نظام ته کوم ګواښ موجود نه وه. دا هسي پلمه وه چي ګني افغانستان د امریکې د متحده ایالاتو او پاکستان ترګواښ لاندي دی.

د امریکا یو شمېر چاراواکو هم داسي انګېرله چي ګني سرو لښکرو څکه حفیظ الله امین له مینځه یووړ چي د ده په شتون کي دولت له ماتي سره مخ وه، ولي دا یوه تېروتنه وه.

یوه امریکایي دیپلومات «ارچرک بلود» په کابل کي د امریکا د سفارت کارکوونکي دا خبره په ډاګه کړې ده چي: «رژیم د ماتي له ګواښ سره مخ نه وه، یوازې روسانو ته انګېرنه دا وه چي څانونه د امین له شره خلاص کړي.١

شوروي اتحاد د ده له شره هغه وخت بې غمه شو، چي د جدې په شپږمه نېټه یې د کې جي بي په سپارښتنه امین او د سیاسي بېرو غړو ته په شوروا (سوپ) کې زهر واچول.

پدې سره ټول بې حاله شول، یوازې دستګیر پنجشېری چي د کې جي بي لخوا ورته ویل شوي وه چي سوپ به نه څښي روغ رمټ پاتې شو.

روسي اشپزانو له یوې خوا د دولت لوړپوړي چاراوکي بېهوشه کړل او له بلې خوا یې په یوې زوروري چاودنې د تېلفون مزي پرې کړل.

له دې سره جوخت هغه کندک چي د امین د ساتلو لپاره ګمارل شوی وه په مرګوني برید پیل وکړ.

لوی درستیز محمد یعقوب چي غوښتل یې مخابرې ته څان ورسوي چي برید پرې وشو. که څه هم هغه ګړې مر نشو خو وروسته د عبدالوکیل لخوا (د نجیب په مهال د بهرنیو چارو وزیر) پرې یو جاغور خالي شو او څای پر څای ومړ.

شوروي اتحاد د حفیظ الله امین د وژلو لپاره درې تنو ته دنده سپارلي وه چي په داسي مهارت یي له مینځه یوسي چي شوروي پوځ ته زیان و نه رسېږي.

سرو لښکرو ته لا دمخه ویل شوي ول چي امین له امریکا او پاکستان سره اړیکي ټینګي کړې دي او کابل ته امریکایي پوځ ننوتی دی.

پدغه درې کسانو کې چي خپلو پوځیانو ته یې د مخه لا دغه ډول روحیه ورکړې وه یو یې جنرال وېکتور پاپوتین، دویم تن په کابل کې شوروی سفیر فکرت احمد جانوویچ تابیوف او دریم تن د دفاع د وزارت مرستیال مارشال «سکولوف» وه.

د اندروپوف د سپارښتني له مخي چي لومړی باید امین له مینځه یوړل شي، نو په همدی بنسټ د نوموړي په مانی د **K.G.B** څانګړو پوځونو (زینت، ګروم او الفا) د جنرال «ګرازدوف» په ښودنه برید وکړ.

«ستیو کول» د دغه برید په تړاو داسي کاږلي دي:

«د کې جي بي قاتلانو د امین کور محاصره کړ او د افغانستان شړل شوي کمونست مشر ببرک کارمل د امین پر څای د کېناستلو لپاره یې په یوه تې – یو ۱۳۴ (**TU-134**) ډوله الوتکه کې په پټه د بګرام هوایي اډې ته، چي د کې جي بي افسرانو او شوروي پارا پوځیانو (**Paratroopers**) لخوا ساتل کېده را ورسېد.»۲



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په څېر و لولئ

کله چې د «مسلمان کنډک» په ګډون شوروي ځواکونو د امين په مانۍ بريد پيل کړ، په سر کې افغان پوځ د امين نه د دفاع لپاره سخت غبرګون وښود چې ګڼ شمېر روسان يې ووژل.
ورته کار په راديو افغانستان کې هم وشو (ليکوال په راديو تلويزيون کې دغه مهال حاضر وه)، کله چې هلته بريد وشو، له سخت غبرګون نه وروسته روسي پوځ ترشا شو.
پدغه وخت کې «وطنجار» په لوډ سپيکر کې په افغان پوځ غږ وکړ او هغوی هم پر شا شول.
د امين د مانۍ ساتونکو چې کله واورېدل شورويان دي، له دوی نه يوشمېرسرتېرو هم له دفاع نه لاس واخېست.
هغه وو چې شوروي پوځ مانۍ ته ننوځي، حفيظ الله امين او عبدالرحمن (د امين زوی) د شاه ولي د مېرمن په ګډون يو شمېر کسان وژني.
له يوې خوا د شوروي چارواکو بې باوري وه چې ګني امين غوښتل چې د شوروي او امريکې تر مېنځ په مناسباتو کې انډول په پام کې ونيسي او له بلې خوا د امريکا متحده ايالاتو هڅه درلوده چې د شوروي پښه افغانستان ته راکاږي.
«ريموند ګارتف» د يوه سند پر بنسټ چې د «اندرو پوف» له څرګندونو نه چې د اکتوبر په ۲۹ نېټه يې د سياسي دفتر غونډې ته د يوه رپوټ په بڼه په ډاګه کړی وه چې د افغانستان نوی ولسمشر په پام کې لري د لوېديځ او ختيځ تر مېنځ انډول وساتي، دغه سياست دا په ګوته کوي چې امين د واشنګټن په لور کوږ شوی دی، له دې څخه داسي برېښي چې نوموړی شوروي اتحاد ته صادق ندی.
«ګارتف» خو د شوروي له لوري «ګورکي ارباتف» په څېر انګېري چې اندروپوف له اندازې نه زيات په ببرک کارمل باندې باور درلود. ولې د کې جي بي (**K.G.B**) سيال استخباراتي سازمان، سي آی ای (**C.I.A**) بيا شوروي اتحاد له پخوا نه څاره چې دوی څه غواړي او څه کوي؟
ستيو کول انګېري چې: «سي – آي – اې په سمه او مکرره توګه د شوروي د پوځونو په هکله معلومات ورکول.
د ډسمبر په نيمايي کې **C.I.A** د شوروي او افغان پر پوله پر لويه کچه د شوروي پوځونو ځای پر ځای کېدل کشف کړي ول.
د سي آي اې مشر «ترنر» د امريکا ولسمشر کارتر ته د ډسامبر په ۱۹ نېټه يوه پټه خبرتيا واستوله چې شوروي غواړي په افغانستان کې ښکېل شي دا ځکه چې د دغه هېواد جنوب لور ته پوځونه استوي.۳
سره د دې چې د شوروي اتحاد سياسي او پوځي چارواکي په يوه خوله نه وه چې په افغانستان پوځي بريد ترسره کړي. او ستينوف له يوې خوا د شوروي سياسي دفتر سره مخ وه او له بلې خوا يې ليدل چې د دفاع وزارت يې په دوه برخو وېشل شوی دی.
امين بايد ووژل شي او دا کار هغه وخت شونی دی چې سرې لښکرې بريد ته تياری وکړي.
د ډسامبر په ۲۲ نېټې د **C.I.A** مرستيال بابي انمن په ډېرې بېړې سره چې د شوروي پوځي بريد ته لږه موده پاتې وه د امريکا د دفاع وزير، هرالډ برون او برژنسکي ته خبر ورکړ چې سي آی اې شک نلري چې د شوروي سور پوځ به په ۷۲ ساعتونو کې په افغانستان يرغل وکړي.
د سي آي اې له دغې خبرتيا نه څلور ورځې وروسته شوروي پوځونو د ډسامبر په ۲۷ نېټې د تاج بېک مانۍ تر اور لاندې ونيوله.
د ډسامبر اوه ويشتمه (۲۷) له هغې ورځې سره برابره وه چې بايد آغا شي د پاکستان د بهرنيو چارو وزير، له امين سره د خبرو لپاره افغانستان ته راغلی وی.
په راديو افغانستان کې ماته (ليکوال) وويل شول چې په تاريخي او سياسي تبصرو کې بايد د پاکستان پر وړاندې دريځ نرم شي.
ما چې د راديو مهالنۍ سرمقاله ليکله را ته دا خبره په ګوته شوه چې د ډسمبر په ۲۷ نېټه آغا شاهي راځي سر مقاله بايد د افغانستان او پاکستان د ښو اړيکو اړتيا ته ځانګړې شي.
ولې د ډسامبر په پنځه ويشتمې (۲۵) نېټې بېرته د راديوافغا نستان تولو پروډسيرانو ته وويل شول چې د پاکستان د بهرنيو چارو وزير سفر ځنډېږ او د دې لامل همدغه وه چې د نوموړي سفر سبوتاژ شي.
نو ځکه د برژنف په سپارښتنې امين د سياسي بيرو غونډې ته وويل:
د برژنف لخوا دغسې يادښت ترلاسه شوی دی چې د آغا شاهي سفر ۳۰ نېټې ته وځنډوي، ستاسو نظر څه دی؟
صالح محمد زيري وويل: څه توپير لري سفر دې وځنډول شي.
د بهرنيو چارو وزير شاه ولي وويل: جناب امين صاحب! ښه ده، خو زه انديښنه لرم!؟
زېری: دا د انديښنې خبره نده د درې ورځو مسئله ده.
شاه ولي: محترم زېری صاحب! د روم ښار په يوه شپه په ابرو بدل شو.
دغه سوال او جواب لا روان وه چې امين د يادښت په کتابچه کې داسي وليکل:
د پاکستان د اسلامي جمهوريت د بهرنيو چارو محترم وزارت ته!
د يو شمېر اسنادو د برابرولو لپاره که چېرې جلالتماب د بهرنيو چارو وزير آغاشاهي د ډسمبر پر ۲۹ يا ۳۰ نېټې کابل ته تشريف راوړي خوشاله به شو. په ادب


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

په پای کې اوه ویشتمه نېټه (۲۷) هغه وه چې شوروي سرو لښکرو په افغانستان وسلوال برید وکړ، امین د هغه کورنی او ګڼشمېرسرتېري یې په سرو وینو کې و لمبول.
«پداسې حال کې چې د عیسوي اختر په ماښام تیاره خپره شوه د شوروي له هوابازانو څخه ډکې «انتونوف» ترانسپورتي الوتکې او کابل په نړیوال هوایي ډګر کې ښکته شوې. د عیسوي اختر په تنکې سبا باندې د شوروي پل جوړوونکو ځواکونو، چې د شوروي له څلوېښتم اردو سره یې دنده لرله ترمیز (حیرتان) بندر ته نږدې پر امو سین تخته یي پلونه کېښودل او د شوروي لومړی شوبلې له پولې څخه تېرې شوې... چې حفیظ الله امین او د هغه نږدې همکاران ووژني او د افغانستان په (اصطلاح) کمونست ګوند کې نوی مشرتابه وټومبي...هغه وخت را ورسېد په ډېره بېړه شوروي ځواکونودوکیل په لاربښودنه
په کابل کې د امین د اوسېدو مانۍ (تاج بېک) ته لار ومونده او پر هغه یې ګولۍ وچلولې... په لسګونو کې – جي – بي (K.G.B) افسران ووژل شول.»۴
شبر شین په دې اند دی،چې امین ددوی ګټوته یولوی ګواښ دی ...اوامین په دې اند وو،چې په موږدمصردجمهور ریس انور سا دات کانه وکړي «۵» الکساندرلیاخوفسکي وایي چې شوروی ځواکونه په افغانستان ورتوې شول ،حفیظ الله امین یی وواژه اوبیا اندروپوف دتلیفون په لیکه لومړی کارمل ته مبارکي وویل او بیا یي دشوروي پرا شوتي قطعي ته امر وکړچي ببرک کارمل ډېر زرکابل ته ورسوي ...اندرو پوف په داسې مهال داامر وکړ،چې لومړی یي دامین دوژلو ډاډ ورکړاوبیا دکې جي بي غړوته وویل چې لومړی ګلاب زوې اوسروري باید دامین مړی وګوري اوبیا دتاج بیګ مانۍشاته په کنده کې ښخ کړي چې دمخه کندل شوي وه .
هغه وه ،چې ببرک کارمل له خپلوملګروسره یو ځاې په شوروي ټانکونو سپورکابل ته را ننووت اودافغا نستا ن ستره غمیزه ،چې دجدي شپږمه نېټه شي پیل شوه .
هغه مهال چې د مسکو چاروا‌کو وپتېله، چې سرې لښکرې پر افغانستان باندې د یرغل لپاره چمتو کړي، د یوې غونډې په ترڅ کې چې برژنف د تل په څېر داسې د ودکا په څښلو نېشه شوی و چې ځان یې نشو ټینګولای، خو همدا به یې له خولې وتل چې «کثیف انسان».
ده چې ځان یې نشو کابو کولای پداسې وخت کې دا خبره کوله چې د ګرومیکو تر مشرۍ لاندې چې اوستینوف، اندروپوف او یو شمېر نور هم په غونډه کې حاضر وو، د خبرو په لړ کې چې برژنف قدم وهه او ګرومیکو به هم کله کله له مټ نه ټینګ کړ چې و نه غورځېږي، نو په غوږ کې یې ور وګځوله:
«امین ډېر خطرناک انسان دی، «اولیانوفسکي» چې د نړیوالې ادارې مرستیال وه، ده هم په دغه غونډه کې شتون درلود، ده په دې اړه ویلي دي:
«برژنف نږدې وه چې څو وارې وولېږي خو ګرومیکو به ببرته کېنوه، ولې په غوږ کې به یې ورته ویلي نوې اطلاعات مو ترلاسه کړي دي او داسې ښکاري چې امین څومره خطرناک انسان دی؟»۶
کله چې دغه ډله په سر کې د شوروي اتحاد د کمونست ګوند عمومي منشي برژنف وه، دې پرېکړې ته ورسېدل چې په افغانستان به د امین پر وړاندې وسلوال برید کوي.
هغه وو چې:
«د ډسامبر په ۲۴ نېټې د شوروي اتحاد د پوځونو لومړی ډله د هوا له لارې افغانستان ته ورسېده.»۷
لکه څرنګه چې شوروي په پټو سترګو له خپلې سیاسي وېرې دېته بدې را ووهلې چې په افغانستان پوځي یرغل ته لاره پرانېزي.
همدا رنګه امریکا هم له دې وېرې چې ایت الله خمیني د ایران پادشاهي نظام (۱۹۷۹ کال) چې د امریکا متحد وه رنګ کړ، خواشیني وه.
که د واشنګټن چارواکي په پهلوي شهزاده ګانو خپه وه، خو مسکو واکمن د ایران «تودي» ګوند ته خواشیني ول چې څرنګه کولی شي چې له یوې خوا د توده یانو سیاسي هلې ځلې له ګواښ سره مخ نشي او له بلې خوا د «ثور انقلاب» وژغوري؟
دوی دې پرېکړې ته ورسېدل چې پخپل پوځي یرغل به هم د افغانستان نظام وساتي او هم به د ایران اخوندان په دې ووېروي چې د «تودې کمونست» ګوند له ځپلو لاس په سر شي.
دلته دی چې جنرال کریلوف ته دنده وسپارل شوه چې د افغانستان د کرکېچ په تړاو معلومات وړاندې کړي.
نومړی چې له ۱۹۷۵ کال نه تر ۱۹۷۹ ز کال پورې په افغانستان کې پوځي سلاکار وه د افغانستان د پوځي او سیاسي حالاتو په تړاو د شوروي د بهرنیو چارو وزیر ګرومیکو، د کې جي بي ریيس اندروپوف، د دفاع وزیر مارشال اوستینوف لوی درستیز جنرال اګارکوف، د بهرنیو چارو د وزارت مرستیال کرنینکوف او تورن جنرال ایوانوف ته په یوه غونډه کې بشپړ معلومات وړاندې کړل، موروزوف هم په شوروي سفارت کې (۱۹۷۵ – ۷۹) د کې جي بي د مدیر د مرستیال په توګه کار کوه، د ډسمبر له لومړی نېټې نه تر ۲۴ نېټې پورې دا ډول پرلپسې غونډې رواني وې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په پای کې مارشال استینوف د ډسمبر پر ۲۴ نېټې د ورځې په پیل کې د شوروي د دولتي او ګوندي چارواکو پرېکړه اعلان کړه چې په افغانستان به پوځي یرغل کوي.
همدا لامل وه چې د یوې پوځي ډلګۍ له لېږلو سره جوخت «ابن ۱۲، ابن ۲۲» الوتکو د کابل په هوایي ډګر کې الوتنې پیل کړې، د ګوند غړو اعلان وکړ چې د کابل ښاریان دې خپلو کړکیو ته پردې واچوي چې بېرون ته څه و نه ګوري دا څومره وړه او غولوونکې سیاسي خبره وه چې شوروي سلاکارانو افغان چارواکو ته په غوږ کې اېښې وه او هغو هم په کنو غوړو او پټو سترګو دا ناره راپورته کړه چې پردې واچوئ او د «الارم» له غږولو سره ځانونه عیار کړئ... یانې څه؟ یانې: داچې د شوروي اتحاد یو غولوونکی سیاست!!
شوروي اتحاد، په همدې پلمه د کندهار او شینډنډ په هوایي ډګرونو کې جنګي الوتکې ځای پر ځای کړې او د پنځه زرو په شاوخوا کې وسلوال ځواکونه یې چې په سپکو او درنو وسلو سنبال وه د ډسمبر په ۲۷ نېټه په هوایي ډګرونو کې مېشت کړل.
په همدې ماښام د اوه (۷) بجو په شاوخوا لومړی پر راډیو افغانستان برید وشو او بیا د تاج بېګ ماڼۍ تر اور لاندې راغله.
موږ د مخه وویل چې د امین په ګډون د ګوند او دولت چارواکي مسموم شوي ول.
ماته (لیکوال) د راډیو تلوېزیون یو کمره مین چې صدیق نومېده له «عمر» سره یو ځای د همدې ماښام د شپږو بجو په شاوخوا کې را ته وویل:
موږ چې د غونډې انځورونه او تصویرونه د غونډې پر ځای کې کره کول وموليدل چې د حفیظ الله امین په څېره کې داسې څه برېښېدل چې موږ ته یې داسې اندېښنه پیدا کړه چې دغه تصویر د خپرېدو وړ ندی.
ما د امین صاحب یاور ته وویل چې که امین صاحب ته ووایې چې د کمرې مخې ته راشي او د «خبر» لپاره یو ښه تصویر ترې واخلو.
هغه را ته په ترخه او تریب تندي وویل: که په نیمه پوهېږې کمره دې تړوله کړه او له دې ځایه دې پښې سپکې کړه.
ده داهم وویل:
زه لا د امین صاحب له یاور سره په خبرو کې وم چې د مرکزي کمېټې دوه غړي چې نوم یې ما (ترې وپوښته) خو ده وا نخست په زینه کې را «کولې» شول او ورغړېدل.
د شوروي اتحاد، د هوایي پل په تړاو چې نه یوازې خلکو اندېښنه لرله، چې ګني په دغو الوتکو کې ټانګونه لېږدول کېږي. بلکې حفیظ الله امین ته هم دا د اندېښنې وړ شوه چې بېلابېلو سرچینو هم ورته د یوه ګواښ په سترګه کتل، امین لکه د تره کي په څېر دا منلې وه چې یو شمېر روسي پوځونه به ستا امنیت ساتي. ولې وروسته یې چې ولیدل، الوتکې بېړنی ښه لري، نو خوشبیني یې په بدبینی بدله شوه.
له دې سربېره له یوې خوا امین ته دا هم ویل شوي ول چې ببرک کارمل به مني، کوم څه چې امین ته دغه خبره د منلو وړ نه وه. او له بلې خوا د ده لیدني او کتني چې له امریکایي ډیپلوماتانو سره ډېرې شوې وې پخپله یې ورته پوښتنې پیدا کړې وې.
د شوروي ځواکونو د رابللو او برید په اړه ویل کېږي چې ګني، د افغانستان له لوري د تره کي او امین د ۱۹۷۸ کال د تړون پر بنسټ شوی دی چې د ډسمبر په پنځمه نېټه لاسلیک شو.
ولې ځني کورنی او بهرنی ډاډمني سرچینې دا نه مني. بلکې د فرهنګ په څېر تاریخپوهان په دې اند دي چې: «په افغانستان د شوروي ځواکونو د یرغل او برید مسئولیت د کارمل پر غاړه دی چې د سرو لښکرو په سیوري کې کابل ته راغی.»۸
د شوروي پوځ کوم ټولګی یانې د مسلمانانو کنډک او د زینت قطعه چې د امین د غولولو لپاره را دې مخه شوی وه هسې یوه پلمه وه. دا ځکه چې د ډسمبر په ۱۳ مې نېټې د روسي ترکستان د پوځي ځواک عمومي قومندان جنرال ماکسیموف خپل مرستیال تورن جنرال توخارینوف ته سپارښتنه وکړه چې پوځونه یرغل ته تیار کړي. که څه هم د جدي له شپږمې نېټې د مخه خالبایف (۲۲ ورځې) وړاندې د عملیاتو د پلان لپاره استول شوی وه. ماکسیموف د هوا له لارې ځان ترمز ته ورسوه، ځکه چې هلته د څلوېښتمې فرقې پلاز وه او ټول ځواکونه د تیارسی په حال کې وو.
کوم پوځي تشکیل چې هلته جوړ شیوی وه، سیمې او نړۍ ته د هېښتیا او حیرانتیا وړ وه او ډېر نامتو پوځي چارواکي چې موږ توخارینوف، جنرال وتکاپوف، جنرال لویانوف، جنرال کرچاکین او نور یادولی شو، دوی په هغو پوځي ټولګیو کې په دندو بوخت وه. لکه را وخله د دیسانت لوا، د راکټ او دافع هوا لوا، د مخابرې، انجینرۍ، لوژستیک او تامیناتو جزوتامونه، هوایي ځواکونه، ترانسپورتي اسانتیاوې، او نور جګړه ییز ځواکونه یادولی شو چې په سر کې مارشال سکولوف ټاکل شوی وه.
په پای کې دغو ټولو هوایي او ځمکني ځواکونو د ترمز له لارې چې لومړی شمېر اتیا زرو ته رسېده په افغانستان برید وکړ.
د شوروي پوځونو د شمېر په تړاو داسې انګېرنې شتون لرې چې ګني یوسلو شل زرو په شاوخوا کې ځواکونو (ځنې له دېنه ډېره او ځنې دغه شمېره لږ ښیي) په افغانستان یرغل وکړ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

الکساندر لیا خفسکي پدې اند دی چي کله دغه ټول شوروي ځواکونه دېته چمتو شول چي په افغانستان ورتوپيې شي نو بيا:
«هغه ځانګړي ځواکونه چي د تاج بېک د مانۍ په شاوخوا کي وو د ګوند او د دولت په مشر حفيظ الله امين يې بريد وکړ او وې واژه.
د ډسامبر په ۲۷ نېټې اندرو پوف د تيلفون په کرښه لومړی کارمل ته د ثور انقلاب د دويم پړاو د بري مبارکي ورکړه او بيا يې د شوروي پراشوټي قطعي ته امر وکړ چي ببرک کارمل ډېر زر کابل ته ورسوي.
... شوروي چارواکو لومړی غوښتل چي کارمل په الوتکه کي ولېږدوي، خو وروسته يې د څو روسي ټانګونو په بدرګه په محاربوي ماشين کي د «شيرګين» تر قوماندې لاندې چي د «الفا» په نوم د استخباراتو يوه قطعه هم ورسره وه کابل ته ورسوه.» ۹
بايد په دې پوه شو چي کارمل د يرغل په سبا له تاجکستان نه د بګرام هوايي ډګر ته په الوتکي کي او بيا يې کابل ته په ټانګ کي ورسوه.
اندروپوف دغه امر په داسي وخت وکړ چي ده ته د حفيظ الله امين د وژلو ډاډ ورکړ شو. (ان تر دې چي مړی د سروري او ګلابزوی لخوا کتل کېږي) او بيا د کي جي بي غړو ته سپارښتنه وشوه چي اوس امين په هغه کنده کي چي د مانۍ شا ته کيندل شوې وه ښخ کړي. عبدالقدوس غوربندي د يوې قطعي د قومندان
له خولي چي د پېښو عيني شاهد وه پخپل کتاب «نګاهي به تاريخ...» کي د دغي شپې پېښي داسي کښلي دي چي ګني امين سره بايد داسي شوي وی.:
«د شپې په وروستيو کي عبدالوکيل چي د شوروي پوځونو يونيفورم يې په غاړه وه (صاحب منصبان يې را ټول کړي ول) په سپکو سپورو يې امين د (**C.I.A**) جاسوس باله. موږ يې هره ګړی په مرګ تهديدولو... امين د **C.I.A** په دستور پاکستان سره سازش کاوه.» ۱۰
دا ډول ډېرې سپکې سپورې د نوموړي له خولي نه وتلي . په پای کي سرو لښکرو د کابل مهمي ستراتېژيکي سيمې ونيولې او پرچميان يې پر ټولو ملکي او پوځي سيمو واکمن کړل.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ